ليکوال : پوهنوال رسول باوري

# غزنی
# يا
# د اسلامي نړۍ کلتوري او مدني پلازمينه

د ډيري خوشالۍ ځاى دى چي د اسلامي هېوادونو د تعليمي ، علمي او فرهنګي سازمان ) اسيسکو ( ISESCOيا ( Islamic Educational Scientific and Cultural Organization )له لوري دا پريکړه شوې چي په ۲۰۱۳ مېلادي کال به د غزني نامتو ښار د اسلامي فرهنګي پلازميني په توګه و پيژندل شي . هغه لا ميلونه چي د اسلامي هېوادونو د ( اسيسکو ) سازمان يې دې ته و هڅاوه او يا يې دې ته اړويست چي دا ښار دي د اسلامي نړۍ د فرهنګي پلازميني په توګه وپيژني ، ښايې زيات وي ، خو زه په دې لنډه ليکنه کې غواړم هغه درې لاميلونه را ياد کړم چي د غزني ښار ته دا وياړ او ارزښت ورکوي ، چي د اسلامي نړۍ له لوري په دې وياړلي نوم او لقب وستايل شي .
لومړۍ لاميل : دغزني ښار د ستري اسلامي امپراتورۍ د پلازميني په توګه
د غزني ښار په منځنيو پيړيو کې د اسلامي امپراتورۍ ستره پلازمينه وه . دا ښار د پخوا هم پيژندل شوئ او نامتو شوئ وو ، خو هغه مهال يې ارزښت او شهرت خورا زيات شو ، چي د سبکتګين د کورنۍ د واکمنۍ پرمهال يې د لويې اسلامي ستر واکۍ دريځ خپل کړ . دا پير چي د اسلامي نړۍ او په ځانګړې توګه د سيمي په تاريخ کې د غزنوي ستروواکۍ په نوم ياديږي ، هم يې د غزني لپاره ارزښت جوت دى او هم يې د اسلامي نړۍ لپاره ځانګړني برملا دي .




د غزنوي ستروواکۍ پر مهال د سيمي ټولي سياسي ، اقتصادي او ټولنيزي چاري د همدې پلازميني څخه تر سره کېدلې . د سياسي ستر واکۍ بنسټ د الپتګين د واکمنۍ پرمهال کښيښودل شو چي په ۹٦٥ ميلادي کال يې د غزني ښار سياسي واک تر لاسه کړ . د غزنوي ستروواکانو په لړ کي د غزني ښار د سلطان محمودغزنوي د ستر واکۍ پرمهال ( زيږد ۹۷۱ وفات ۱۰۳۰ ميلادي ) خورا ښه وځلېدى ،او د ستر واکۍ د پلازميني په توګه يې خپل برم او دبدبه د سلطان ابراهيم غزنوي تر ستر واکۍ او بيا د ملک خسرو تر واکمنۍ پوري چي تر ( ۱۱۹۳ ) مېلادي کاله پوري واکمن وو ، په خورا ښه توګه وساتل . تر هغه وروسته هم د غزني ښار د دې سره -سره چي يوځل د غوري واکمنو دغضب په لمبو کي وسوځېدئ . ( ۱۱٥۱ ميلادي کال )اوبيا په ( ۱۲۲۲ ) ميلادي کال ، ديوشمير کسبګرو پرته نور ټول غزني وال د چنګيزي تاړاکګروله خوا په ډله ايزه توګه و وژل شول ، ولي دې تاريخي ښار بيا هم د يوه پيژندل شوي اسلامي پلازميني په توګه خپل ځانګړۍدرنښت او ارزښت وساتى . ( تاريخ مختصر افغانستان ۱٤۰ _ ۱٥۰ )
د غزني ښار د منځنيو پيړيو داسلامي ستروواکۍ د پلازميني په توګه خورالوړ اقتصادي دريځ درلودى .علامه حبيبي د ابن حو قل په حواله ليکي چي :د غزني ښار د هغي سوداګريزي لاري پر سر پروت وو چي بلخ يې د باميان ، غزني ، پختيا ، ګومل ، بنون او د نيلاب وروسته د هند سره يوځاى کوئ . د غزني پسونو او د سوداګريزو توکو د وړلو راوړلو لپاره اوښانو او بوده ګانو خورا زيات شهرت درلود . د افغانستان بعد از اسلام مشرح تاريخ کي راغلي چي د ابن خرداذبه په قول د عباسي خلافت پر مهال د غزني اړوندو سيمو څخه يوازي د هرو سلو زرو پسونو څخه

دوه زره پسونه د مالياتو په توګه ورکول کېدل . تر ابن خردادبه سل کاله ورسته البشاري مقدسی د نورو سيمو تر څنګ د غزني ماليات په هر کال کي شپږ سوه زره پسونه ښودلي دي . د هيونتسنګ له ليکنونقل شوی چي د غزني سيمي نامتو زراعتي حاصلات ژمني غنم ، د بيلا بيلو ميو او ګلانو شتون ، زردچوبه او هنګ دي . اودا هم ياد شوي چي په غزني کي د پسونو حلالو او پاکو غوښو زيات شهرت درلود . په دې تر تيب د غزني ښار د منځنيو پيړيو يو مهم اقتصادي او تجارتي مرکز په توګه پيژندل شوی دئ . ( افغانستان بعد از اسلام ،۴۳۸ ، ۴۴۰ ، ۴۵۰ مخونه)

دوهم لامل : په غزني کي د اسلامي ودانيو او زيارتونو شتون اود هغو ډيرښت:

ښايې په افغانستان او حتی سيمه کي به هم د غزني ښار په څير بل داسي يو ښار نه وي چي د زياتو اسلامي سياسي واکمنانو ، نامتو درويشانو او متصوفينو هديرې او زيارتونه دي په يوه نږدې او لنډ واټن کي ولري . په غزني د نورو زياتو مشهورو زيارتونو تر څنګ د غزنوي ستروواکی د زياتو ستر واکانو او واکمنانو هديرې شته . تر دې لا زياته د پام وړ خبره دا ده چي د يو شمير سياسي واکمنو هديرې د هغوی د ښونو او باغونود بيلګو سره لا تراوسه هم پاتي دي . په غزني کي د سلطان محمود غزنوي زيارت ، د سلطان مسعود زيارت ، د سلطان عبدالرزاق زيارت اود يو شمير نورو نامتو واکمنانو هديرې او د هغوی اړوند شنې سيمي اوباغونه شته چي هم يې د غزني ښار ته برم ورکړی او هم يې په افغانستان او سيمي کي د منځنيو پيړيو د اسلامي واکمنيو نښانې د ځان سره ساتلي دي.




په غزني د يوه نامتو منار دوه انځورونه

د نامتو زيارتونو او د سياسي ستروواکانو او واکمنانو پر هديرو او د غزنوي ستروواکی پرمهال د جوړو شويو ودانيو پر بيلا بيلو خوا د اسلامي ليکدود او بيلا بيلو ليکبڼو شتون د زيارتونو او مقبرو ارزښت لا زيات کړی دئ . د غزنويانو د ستروواکی پرمهال لړ تر لږه د ليکدود شپږ ډولونه لکه مناشير ، محقق ، نسخ ، ريحان ، رقاع او ثلث هم د کتابونو د ليکلو پرمهال او هم د زيارتونو د لوحو او ډبرليکونو لپاره کارول شويدي ، يو شمير داسي ليکنيز لاسوندونه هم شته او دا ثابتوي چي د غزنويانو د ستروواکی پر مهال بيلابيل ښکلي تصويرونه او انځورونه هم د ځينو مينه والو له لوري کارول شويدي ، او له هغې ډلي يو هم د سلطان محمود زوي سلطان مسعود وو چي په هرات کي يې د خپل کور د ښکلا لپاره انځورونه خوښ کړي او کارولي وه . دا کور د عدناني باغ په نوم ياد شويدئ . د بيهقي په حواله د همدې انځورونو له امله د سلطان محمود له خوا تنبه شو . ( تاريخ خط و ونوشته های کهن : ۱۰۵)



سلطان محمود غزنوي په دوو انځورونو کي



دریم لامیل : په غزني ښار کي د اسلامي هنري ځانګړتیاوبیلا بیلي بیلګي:

د دې لپاره چي د دې بیلګو په اړه مو اړین مطالب یاد کړي وي ، ښه به وي چي په غزني ښار کي د غزني موزیم لنډه یادونه وکړو چي هم به هنري ځانګړتیاوي را یادي او هم به د غزني موزیم په اړه لنډ مالومات د مینه والو لپاره وړاندي شي . د غزني موزیم په افغانستان کي د اسلامي اثاروتر ټولو ستري زیرمي لري . د دې سره – سره چي د غزني موزیم د هیواد په ولایاتو کي دریم پرانستل شوی موزیم دی ، ولي دا موزیم د دولتي او یا حکومتي پخواني پلان له مخي نه دی پرانستل شوې . بلکي د دې ولایت په اړوندو سیمو کي د لرغونپوهانو پر له پسې څیړنو د دې موزیم د جوړېدلو چاري ګړندی کړلې.

. د غزني موزیم او یا د اثارو زیرمتون ته هغه وخت زیات پام واړول شوچي په غزني اوشا اوخواسیموکي دلرغونپوهانو په وسیله دڅیړنوبهیر ګړندی او ارزښتمن توکي تر لاسه شول . له هغه وروسته چي په ( ۱۳۳۸ ) لمریز کال د سلطان ابراهیم د مقبری څنګ ته تر ( ٤۲ ) زیات مرمرین ډبر لیکونه تر لاسه شول د غزني موزیم ارزښت د اسلامي اثارو د شتون له اړخه لا د پام وړشو . د لومړي ځل لپاره په ) ۱۳٤۰ ( لمریز کال د سلطان عبدا لرزاق مانۍ چي په غزني کي دهراتي تیموریانو د پیر یوه ښکلې بیلګه وه ، د غزني موزیم په واک کي ورکړل شوه.

په غزني موزیم کي را ټول شوي اثار د دوو لارو تر لاسه شوي وه لومړي هغه اثار وه چي د سپړنو پرته ترلاسه شوي وه لکه : یو شمیر ډبریني لیکني ، په لاس لیکل شوي کتابونه ، ځني سکې یو شمیر هغه ډبریني مجسمي چي د غزنوي پیر په مانیوکي د ښکلا په نیت د اوبو پاشونو ( فوارو ( په توګه کارول شوي ، اوداسي نور یادولاي شو .
دوهمه برخه هغه اثار دي چي د لرغونپوهانو په وسیله د سپړنو له لاري تر لاسه شویدي . په دي برخه کي د اسلامي پیر هغه اثار چي د غزنویانود واکمنۍ د مهال هنري مهارتونه راڅرګنده وي لکه زینتي خاورین لوښي چي د ګچو څخه جوړشوي ، یا هغه مرمریني نقاشۍ چي د غزنوي پیر د پیاوړو او بر لاسو هنرمندانو بیلګي دي ، او په دي ډول نور اثار چي د غزني په موزیم کي ساتل شوي وه ، یادولاي شو.

د غزني موزیم لپاره د ګرځندوۍ اداري په ۱۳۵۰ لمریز کال یوشمیر اثار وپیرودل او هم د دواړو ادارو په ګډ زیار د سیلانیانو د پام را اړولو په نیت پرله پسې ننداري پیل شوې ، چي د عاید څخه یې دواړو ادارو ته ګټه ورسیدل . د ایتالوي لرغونپوهانو له خوا په ۱۳۵۳ لمریز کال د موزیم د مانۍ د بیاجوړیدو هڅه وشوه ، په ۱۳۵۷ لمریز کال نوموړي موزیم دغزني خلقي موزیم په نوم ونومول شو . دانوم بیرته په ۱۳۵۹ لمریز کال د غزني موزیم شو او له بده مرغه د موزیم ننداري د ۱۳٦۱ لمریز کال وروسته وځنډول شوي او په ۱۳٦۹ لمریز کال د غزني موزیم یو شمیر اثار د امنیتي اندیښنو له کبله د افغانستان ملي موزیم ته را نقل شول ، اوپه ملي موزیم کي پاته اثارد مصونیت او امنیت په نیت تر ۱۳۷۱ لمریز کال پوري دتړلو دروازو شا ته وساتل شوه ، چي له بده مرغه د ملي موزیم اثارو د چور پر مهال د غزني څخه د راوړل شویو اثارهم چور او تالان شول .









د علامه البیروني په نوښت تر تیب شوی انځور چي د لمر او سپوږمی موقعیتونه څرګندوي



د غزني ښار په ۱۸۸۳ ميلادي کال ( د افغان انګريزد جګړې پرمهال)

اوس چي له نيکه مرغه د اسيسکو اسلامي سازمان د غزني ښار ته په ۲۰۱۳ ميلادي کال کي د اسلامي کلتوري مرکز دلقب ورکولو پريکړه کړېده، ټولي هغه اړيني چاري چي د دې لقب د پرځای کولو او ساتلوپاره شته، بايد په پوره ځيرکی او وړتيا تر سره شي. په دې ترڅ کي غواړم د خپلي هغه ليکني څخه د وړانديزونو لړی د لاسوهني پرته را واخلم چي دوه کاله وړاندي مي د (( م لرغونی غزنی او د هغه ځانګړي تاريخي وياړونه )) تر سر ليک لاندي ليکلي وه .

پايله:

غزنی د افغانستان د يوه تاريخي ولايت په توګه د هيواد په ټوليز تاريخ کي ځانګړي بابونه او وياړلي سر ليکونه لري ، چي ربښتينوالي يې په هغو لرغونو سيمو او تاريخي ودانيو کي څرګند دی چي د غزني په مرکز او اړوندو سيمو کي په سترګو کيږي . د غزني تاريخ زريني پاڼي د سيمي لپاره هم وياړني او د برمه ډکي لاس ته راوړني لري ، چي زيات شمير مورخينو او لرغونپوهانو يې په اړه په خپلو اثارو کي يادوني کړيدي . د غزني ولايت د نورو تاريخي وياړونو سر بيره داسي بيلګي هم شته چي څيړونکي يې د غزني ولايت او اړوندو سيمو ځانګړني بولي . د امريکايي لرغونپوه لويس دوپرې په باور ، د ناوردښت په افغانستان کي د پخواني انسانانو تر ټولولرغونی ميشت ځای دی ؛ د سويسي لرغونپوه بوخارر په وينا په غزني کي د بودا تر ټولو لويه ويده مجسمه شته چي د ايتالوي لرغونپوهانو په وسيله رابرسيره شويده ؛ او په دې ډول نوري ځانګړني شته چي د ټولو را يادول د دې ليکني تر توان لوړ دي.

وړانديزونه:

د غزني ولايت د تاريخي برم او لرغونو وياړونو د ساتني او پالني لپاره ، په هيواد کي دکلتوري ادارو او سيمه ايزو چارواکو پام لاندي وړانديزونو ته راګرځوم :

لومړی : په غزني ولايت پوري اړوند و ټولو لرغونو او تاريخي سيمو ليک لړ دي دلرغونپوهني د ارونو په پام کي نيولو سره بشپړ شي .

دويم : هغه شمير تاريخي ودانی دي په ګوته شي چي دنړيدو او ورانيدو ويره يې شته ؛ د دا ډول ودانيو د بيا جوړولوپاره دې د بيا جوړولو او پايښت ورکولو بيړنی پروژې د سيمه ايزو ادارو او د هيواد د کلتوري چارو داړوندو ادارو په ملتيا پيل او پلي شي؛

دريم : په غزني کي د ګرځندوی اداري ته پوره پاملرنه وشي ، او د زايرينو ، ګرځندويانو د اسانی لپاره ، ځانګړي ودانی ، پارکونه او هوټلونه په نظر کي ونيول شي ؛

څلورم : د غزني تاريخي موزيم د پياوړتيا او ودي لپاره دي د سيمه ايزو ادارو او د اطلا عاتو او کلتور وزارت اړوندو ادارو او نړيوالو کلتوري موسيسو پر له پسي مرستي وغوښتل شي ؛

پنځم : د غزني پوهنتون دي ، د لرغونپوهني په برخه کي د ځوانو محصيلينو د روزني لپاره د (( د اسلامي پير لرغونپوهنه )) تر نوم لاندي ځانګړی ديپارتمنت پرانيزي ؛

شپږم : د اطلاعاتو او کلتور وزارت د اړوندو چارواکو په مرسته دي په غزني ولايت کي ټولي هغه ودانی او يا ښکلي طبيعي سيمي په ګوته شي ، چي د نړيوال کلتوري ميراث په لړی کي د شامليدو وړتيا لري ، د هغو نومونه او لنده پيژندګلوي دې ، د يونسکو اداري ته د رسمي منلو لپاره وړکړل شي ؛

ورستی خبره داچي ، د غزني چارواکي او د هيواد د کلتوري چارو واکمنان په ډير ښه دريځ کي دي ، که وغواړي چي خپل نوم د غزني او هيواد په تاريخ کي هميشنی کړي نو د غزني د تاريخي برم درا يادولو او پايښت لپاره دي کار وکړي ، او که نه نومورکي به شي.

اخځونه د الفبا په ترتيب :
١ : باوري ، رسول . موزيم پوهنه او په افغانستان كي د موزيمونو دودي بهير . ( سپک تولنه : پيښور ) ١٣٧٤.
٢ : بورخارد برينتس . پښتانه او ورونه مليتونه . ژباړن : پوهاند داكتر زيار . ( كابل : دولتي مطبعه ) ١٣٦٦ .
٣ : تدي ، موريزو . د سردار تپي لومړنی راپور . ژباړن : واسيع فيروزي . د افغانستان لرغونپوهنه . ( كابل : ودلتي مطبعه ) ١٩٨٣.
٤ :پالوال ، عبدالرزاق . د پښتنو نوی پخوانی تاريخ . ١٩٩٤.
٥ : پولاديان ، عبدالجليل . په افغانستان كي د فرانسوي لرغونپوهانو څيړني . د افغانستان لرغونپوهنه. ( كابل : دولتي مطبعه ) ١٣٦٢.
٦ : حبيبي ، عبدالحی . افغانستان بعد از اسلام ( كابل : دولتي مطبعه )١٣٥٧.
٧ : حبيبي ، عبدالحی . تاريخ مختصر افغانستان . ( كابل : مطبعه دولتي ) ١٣٤٩
٨. Nancy Hatch Dupree . An Historical Guide To Afghanistan .(Kabul:A.T.Organization ): 1977.

پای